# کله چې بنده ناروغ یا مسافر شي، نو د هغه لپاره د هغه عمل سره برابر ثواب لیکل کیږي چې د اقامت او روغتیا په حالت کې یې کاوه

له ابو موسى الأشعري - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایې چې : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "کله چې بنده ناروغ یا مسافر شي، نو د هغه لپاره د هغه عمل سره برابر ثواب لیکل کیږي چې د اقامت او روغتیا په حالت کې یې کاوه".
[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله - صلى الله عليه وسلم - د الله تعالی د فضل او رحمت په اړه فرمايي: چې یو مسلمان کله د روغتیا او اقامت پر مهال نېک عمل تر سره کوي او بیا ورته عذر پیدا شي او ناروغ شي نو بیا یې نشي کولای یا دا چې په سفر او یا کوم بل عذر ورڅخه مشغول شي، نو هغه ته پوره اجر لیکل کیږي، هومره چې د روغتیا او اقامت په حالت کې یې کاوه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3553